1. داود او جون په پوهنتون کې د پښتو شاگردان دی.
2. غلځی صاحب د داود او جون دپښتو ښوونکی دی.
3. پتنگ ډاکټر دی.
4. د امان ښځه لیلا پرستاره ده.
5. اسد او رابیا شاگردان دی.
6. رابیا ژورنالزم لولی.
7. جون او رابیا ډیرې نزدې ملگري دی.
8. امان، لیلا، رابیا، پتنگ او اسد ټول د افغانستان او پښتانه دی.
9. د امان او رابیا کورنۍ په امریکا کې دی.
10. د نورو کورنۍ په افغانستان کې دی.
11. دوی ټول ملگري دی.

2. Fill in the blank with the correct form of each noun listed below it.

__________ چیرې دی؟

پرستاره ډاکټر شاگرد
ملگري پښتون شاعر
شاگرده ښځه تاریخ پوه

اسد په __________ کې دی.
رابیا په __________ کې ده.

لیلیه پوهنتون کور
صنف روغتون

Section 5. The Pashto Alphabet

Some Ligatures and Conventions

ا + ل = لا

Examples: [salā̆m] سلام [ɪslā̆mabād] اسلام آباد

[baghlā̆n] بغلان [jālā̆labād] جلال آباد

اً = [an] in words originally from Arabic

Example:

'for example' [masalan] مثلاً 'usually' [amuman] عموماً

آ = [ā] in words originally from Persian

Examples:

[ɪslā̆mabād] اسلام آباد [jalā̆labād] جلال آباد

[khā̆nābād] خان آباد

Practice

1. Write the following words in Pashto.

[laylā̆] [salā̆m] [kalā̆] 'compound' [plā̆r] 'father'
[khānābā̆d] [jalālabā̆d] [salāta] 'salad' [lās] 'hand'
[baghlā̆n] [lā̆r] 'road'

2. Review: read the following groups of words out loud.

Group 1. مه څنگه نه ده سره له په ته

Group 2. نور کور یم یو او هو

Group 3. یاستئ چېرې دی دی یې کې

Group 4. په خیر یې؟ څنگه یې؟ مهرباني تشکر سلام

Group 5. شوروی اتحاد پاکستان امریکا افغانسان

Section 6: Diversions

چې خان يې په ياران يې

[che khān ye pə yārān ye]

You are a khān thanks to your friends.....



Unit 3: ته څه کارکوې؟

Section 1: Dialogue

Theresa: [salām.]	تريسا: سلام.
Asad: [salām.]	اسد: سلام.
Theresa: [de ghəldzí sāyɪb məlgə́ray ye?]	تريسا: د غلځی صاحب ملگری يې؟
Asad: [wó. zə asád yəm.]	اسد: هو! زه اسد يم.
Theresa: [di mā núm tərísa da.]	تريسا: ز ما نوم تريسا ده.
Asad: [tə ba de ghəldzí sāyɪb nəwé shāgə́rda ye.]	اسد: ته به د غلځی صاحب نوې شاگرده يې.
Theresa: [po nə́ swəm.]	تريسا: پوه نه شوم.
Asad: [de ghəldzí sāyɪb zdá kawúnke ye?]	اسد: د غلځی صاحب زده کوونکې يې؟
Theresa: [wo. de ghəldzí sāyɪb zdá kawúnke yəm.]	تريسا: هو! دغلځی صاحب زده کوونکې يم.
Asad: [rādza kéna.]	اسد: راځه کښېنه.
Theresa: [tashakúr. tə tsə́ kār kawe?]	تريسا: تشکر. ته څه کار کوې؟
Asad: [zda kawúnkay yəm.]	اسد: زده‌کوونکی يم.
Theresa: [tsə́ shay lwane?]	تريسا: څه شی لولې؟
Asad: [kimyā lwanəm. tə́ tsəngá? yawāze paxtó lwane?]	اسد: کيميا لولم. ته څنگه؟ يوازې پښتو لولې؟
Theresa: [na. zə de zə́b pohāne zdá kawúnke yəm.]	تريسا: نه. زه د ژب پوهنې زده کوونکې يم.
Asad: [de kúm dzay ye?]	اسد: د کوم ځای يې؟
Theresa: [de míshigən yəm.]	تريسا: د مشيگن يم.
Asad: [dəlta chére wosége?]	اسد: دلته چيرې اوسېږې؟
Theresa: [pə jórjtawn ke woségəm.]	تريسا: په جورج تون کې اوسېږم.

New Vocabulary

Nouns

name *M2* [num] نوم

linguistics *F1* [záb pohána] ژب پوهنه

thing *M3* [shay] شی

place *M3* [dzāy] ځای

student *F1* [zdá kawúnke] زده کوونکې

work *M2* [kār] کار

Pronouns

my *emphatic* [di mā] / [zmā] زما

I *emphatic* [za] زه

Verbs

study [lwan-] لول-

live [wóseg-] اوسېږ-

American names

Theresa [tarisá] تریسا

Michigan [míshigan] مشیگن

Georgetown [jórjṭawn] جورج ټون

Question words

what ...? [tsa] څه

which ...? [kum] کوم

Adverbs, phrases, idioms

particle [ba] به

Come sit down. [radza kéna.] راځه کښېنه.

How about you? [tá tsánga?] ته څنگه؟

no [na] نه

I didn't understand. [po ná swam.] پوه نه شوم.

Practice

1. Construct personal answers to the following questions.
   - a. څه کار کوې؟
   - b. دلته څه شی لولې؟
   - c. د کوم ځای یې؟
   - d. چېرې اوسېږې؟
2. Pair up, and ask and answer (truthfully) the questions above.

Section 2: The Present Tense*

Examples

'What work do you do?'	[tə tsə́ kā̆r kawé?]	ته څه کار کوې؟
'What are you studying?'	[tsə́ shay lwane?]	څه شی لولې؟
'Are you studying only Pashto?'	[yawā̆ze paxtó lwane?]	یوازې پښتو لولې؟
'Where are you living?'	[chére wosége?]	چېرې اوسېږې؟
'I'm living here.'	[dəlta woségəm.]	دلته اوسېږم.

Notes:

1. The Pashto present tense is parallel to the English simple present (e.g. 'I work') and the English present continuous (e.g. 'I am working') tenses.

2. The Pashto present tense is imperfective*; verbs in the present tense carry the implication that the action is still going on, or that the action is a regularly occurring one that will continue in the future.

Forms

Positives:

'I'm working/work (regularly)'	[kā̆r kawə́m.]	کار کوم.
'You're working/work (regularly)'	[kā̆r kawé.]	کار کوې.
'He/she is working/works (regularly)'	[kā̆r kawí.]	کار کوی.
'We're working/work (regularly)'	[kā̆r kawú.]	کار کوو.
'You-all are working/work (regularly)'	[kā̆r kawə́y.]	کار کوئ.
'They are working/work (regularly)'	[kā̆r kawí.]	کار کوی.

---

* Definitions and explanations of asterisked items are given in the Glossary of Technical Terms at the end of the Workbook.

Negatives:

'I'm not working'/'don't work(regularly)'	[kăr nə́ kawəm.]	کار نه کوم.
'You're not working/don't work (regularly)'	[kăr nə́ kawe.]	کار نه کوې.
'He etc. isn't working/doesn't work (regularly)	[kăr nə́ kawi.]	کار نه کوی.
'We're not working/don't work (regularly)'	[kăr nə́ kawu.]	کار نه کوو.
'You-all aren't working/don't work (regularly)'	[kăr nə́ kawəy.]	کار نه کوئ.
'They aren't working/don't work (regularly)'	[kăr nə́ kawi.]	کار نه کوی.

Questions:

'Am I working/Do Iwork (regularly)?'	[kăr kawə́m?]	کار کوم؟
'Are you working/'Do you work (regularly)?'	[kăr kawé?]	کار کوې؟
'Is he etc. working/Does he work (regularly)?'	[kăr kawí?]	کار کوی؟
'Are we working/Do we work (regularly)?'	[kăr kawú?]	کار کوو؟
'Are you-all working/Do you-all work (regularly)?'	[kăr kawə́y?]	کار کوئ؟
'Are they working/Do they work (regularly)?'	[kăr kawú?]	کار کوو؟

Notes:

1. The present tense is formed with the imperfective present root* of the verb, plus the following personal endings:

1st person singular: [-əm] م-	1st person plural: [-u] و-
2nd person singular: [-e] ې-	2nd person plural: [-əy] ئ-
3rd person singular and plural: [-i] ی-	

The stress falls on the personal ending.

2. Negatives are formed by adding the particle [nə] نه before the verb. The negative particle is stressed.

3. Yes-no questions* are the same as statements except for rising intonation at the end of the sentence.

Practice

1. The sentences below are taken from the dialogue. Explain the form and meaning of each underlined verb.

a. ته څه کار کوې؟

b. څه شی لولې؟

c. کیمیا لولم.

d. یوازې پښتو لولې؟

e. دلته چېرې اوسېږې؟

f. په جورج تاون کې اوسېږم.

2. Read the following statements about the Pashtuns and Pashto students.

a. رابیا ژورنالزم لولی.
b. جون او رابیا په لیلیه کې اوسېږی.
c. غلځی صاحب په پوهنتون کې کار کوی.
d. د اسد کورنۍ په افغانستان کې اوسېږی.
e. پتنګ او لیلا په روغتون کې کار کوی.
f. د غلځی صاحب کورنۍ په افغانستان کې نه اوسېږی.

3. Construct sentences, negative sentences and questions with the following verbs:

کار کو- کښېن- لول- اوسېږ-

4. Answer the following questions.

a. په لیلیه کې اوسېږې؟
b. په پوهنتون کې پښتو لولې؟
c. کار کوې؟
d. یوازې اوسېږې؟
e. چېرې کښېنې؟

Section 3: Reading


لغمان
چارکار
کابل
کابل
ننگرهار
جلال آباد
لوگر
گردېز
غزنی
شلگر
غزنی

دداود ملگری ټول افغانان او د افغانستان د بیلو بیلو سیمو دی. پټنګ د لغمان او اسد د لوگر دی. رابیا د ننگرهار او لیلا د لوگر ده.

امان د کابل نیازی دی. د امان تره د نیازیو مشر دی .

غلځی صاحب د غزنی دی . د غلځی ماما د شلگر ملك دی. د شلگر د خلکو جامې هرڅوك خوښوی، خو غلځی صاحب یې نه اغوندی. د شلگر ډیر اوسیدونکی اندړ دی. د لیلا او اسد مور اندړه ده.

غلځی صاحب هم په شلگر کې بلد دی. خور یې په شلگر کې واده ده. د غلځی صاحب یو خوریی د مجاهدینو قوماندان او د امان ملگری دی.

امان کله کله پېښور ته ځی او ور سره گوری. د رابیا یو ورور هم په پېښور کې دی. هغه د پېښور په پوهنتون کې استاد دی.

New Vocabulary

Pashtun provinces, areas

Laghman [laghmān] لغمان

Shalgar [shalgár] شلگر

Logar [logár] لوگر

Ningrahar [ningrār] ننگرهار

Kabul [kābə́l] کابل

Ghazni [ghaznī] غزنی

People

Afghan *M1* [afghān] افغان

inhabitants *M3* [osedúnki] اوسیدونکی

leader *M1* [mashár] مشر

head man (of village) *M1* [malák] ملك

people, populace *M1* [khalək] خلك

guerillas *M irreg.* [mujahídino] مجاهدینو

commandant *M1* [qumandān] قوماندان

professor *M1* [ustād] استاد

Pronouns

everyone [artsók] هرڅوك

them/his [ye] يې

he (out of sight) [aghá] هغه

all [ṭol] ټول

Adjectives

separate *M OPl form* [bélo belo] بېلو بېلو

familiar *M Ds form* [balád] بلد

married *F Ds form* [wādá] واده

one *M Ds form* [yaw] یو

Relatives

sister *F irreg.* [khor] خور

brother *M irreg.* [wror] ورور

maternal uncle *M irreg.* [māmā] ماما

paternal uncle *M irreg.* [tra] تره

mother *F irreg.* [mor] مور

nephew *M irreg.* [khwrayáy] خوریی

Pashtun tribe names

Ander [andaṛ] اندړ

Niazay [nyāzay] نیازی

Verbs

enjoy, like [khwaxaw-́] خوښو-

wear (clothes) [aghund-́] اغوند-

meet, visit with [gor-́] گور-

go [dz-] ځ-

Nouns

area *F1.* [síma] سیمه

clothes *F1.* [jāmé] جامې

province *M2.* [wɪlāyát] ولایت

Adverbs, phrases, idioms

many *adv.* [ḍer] ډېر

sometimes *adv.* [kála kala] کله کله

with him *phr.* [wə́r sara] ورسره

Conjunction

but [kho] خو

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

1. پتنګ د لوګر دی؟
2. د غلځی صاحب خور په شلګر کې اوسېږی؟
3. رابیا افغانه ده؟
4. د غلځی صاحب خور د اسد ملګرې ده؟
5. لیلا د افغانستان ده؟
6. د مجاهدینو قوماندان د امان ملګری دی؟
7. امان د لغمان دی؟
8. غلځی صاحب په شلګر کې اوسېږی؟
9. اسد په لوګر کې دی؟
10. شلګر په غزنی کې دی؟

2. Fill out the chart below with information from the reading.

څوک؟	چېرې اوسېږی؟
د پتنګ کورنۍ	--------------------
د اسد او لیلا کورنۍ	--------------------
د غلځی صاحب خور	--------------------
د امان کورنۍ	--------------------
د غلځی د ماما کورنۍ	--------------------
د رابیا او اسد ورور	--------------------

Section 4: Word Structure

M3 nouns Characteristics: *DSg* ends in [ay]ی, can be either animate or inanimate

Endings: *DSg* [-ay] ی- *DPl* [-i] ی- /[yān] یان-

OSg [-i] ی- *OPl* [-o] و- /[yāno] یانو-

Stress on final syllable

Example: *DSg:* [ghəldzā́y] غلځی *DPl:* [ghəldzi] غلځی / [ghəldzyā́n] غلځیان

OSg: [ghəldzi] غلځی *OPl:* [ghəldzó] غلځو / [ghəldzyā́no] غلځیانو

Stress on next-to-final syllable

Example: *DSg:* [məlgáray] ملګری *DPl:* [məlgári] ملګری

OSg: [məlgári] ملګری *OPl:* [məlgáro] ملګرو

M3 class nouns learned so far:

[ghəldzáy] غلځی [məlgáray] ملګری [xowúnkay] ښوونکی

[shay] شی [dzā́y] ځای [nyāzáy] نیازی

F2 nouns Characteristics: *DSg* ends in [əy] ۍ-

Endings: *DSg, DPl, OSg* [-əy] ۍ- *OPl* [-əyo] نیو-

Example: *DSg:* [koranə́y] کورنۍ *DPl:* [koranə́y] کورنۍ

OSg: [koranə́y] کورنۍ *OPl:* [koranəyo] کورنیو

F2 class nouns learned so far: [koranə́y] کورنۍ

F3 nouns Characteristics: *DSg* ends in [ā] ا-

Endings:	*DSg* [-ā] ا-	*DPl* [-we] وې- /[-gāne] گانې-
	OSg [-ā] ا-	*OPl* [-wo] وو- /[gāno] گانو-

Example:			
DSg:	[amrikā́] امریکا	*DPl*:	[amrikā́we] امریکاوې / [amrikāgā́ne] امریکاگانې
OSg:	[amrikā́] امریکا	OPl:	[amrikā́wo] امریکاوو / [amrikāgā́no] امریکاگانو

F3 class nouns learned so far: [amrikā́] امریکا [kimyā́] کیمیا

Irregular Nouns in This Unit

Masculine nouns:

[wror] ورور	*DSg*:	[wror] ورور	DPl:	[wrúna] ورونه
	OSg:	[wror] ورور	OPl:	[wrúno] ورونو
[māmā́] ماما	*DSg*:	[māmā́] ماما	*DPl*:	[māmāgā́n] ماماگان
	OSg:	[māmā́] ماما	*OPl*:	[māmāgā́no] ماماگانو
[trə] تره	*DSg*:	[trə] تره	*DPl*:	[trúna] ترونه
	OSg:	[trə] تره	*OPl*:	[trúno] ترونو
[khwrayáy] خوریی	*DSg*:	[khwrayáy] خوریی	*DPl*:	[khwrayā́n] خوریان
	OSg:	[khwrayí] خوریی	*OPl*:	[khwrayó] خوریو/ [khwrayā́no] خوریانو
[mujāhíd] مجاهد	*DSg*:	[mujāhíd] مجاهد	*DPl*:	[mujāhidín] مجاهدین
	OSg:	[mujāhíd] مجاهد	*OPl*:	[mujāhidíno] مجاهدینو

Feminine nouns:

[mor] مور	*DSg:*	[mor] مور	*DPl:*	[máynde] میندې
	OSg:	[mor] مور	*OPl:*	[máyndo] میندو
[khor] خور	*DSg:*	[khor] خور	*DPl:*	[khwáynde] خویندې
	OSg:	[khor] خور	*OPl:*	[khwáyndo] خویندو

Practice

1. Sentences from the reading passage are given below. Identify the gender and class of each underlined noun; tell whether it is singular or plural; tell whether it is in the direct or oblique case, and why.

1. د داود ملگري تول افغانان او د افغانستان د بیلو بیلو سیمو دی.
2. د امان تره د نیازیو مشر دی.
3. د غلځي ماما د شلگر ملك دی.
4. د شلگر د خلکو جامې هرڅوك خوښوی، خو غلځی صاحب یې نه اغوندی.
5. د غلځی صاحب یو خوریی د مجاهدینو قوماندان او د امان ملگری دی.
6. امان کله کله پېښور ته ځی او ور سره گوری.
7. هغه د پېښور په پوهنتون کې استاد دی.

2. Create sentences by substituting the various occupation and relative words you know in the blanks.

د ______ ______ استاد دی.

د ______ ______ پېښور ته ځی.

د ______ ______ د ______ ملگری دی.

2. Unfamiliar nouns are given below, with information about their classes. Give the *DSg*, *DPl*, *OSg* and *OPl* forms for each noun, then create sentences with it.

girl *F1* [péghla] پېغله   man *M3* [saŕáy] سړای   friend *M1* [dost] دوست

Section 5: Diversions

It is said that Laghmanis are so smart they can outwit the Devil.

A Laghmani became friends with the Devil, and went into partnership with him to farm. The two of them planted turnips, wheat, and corn.

When it was time to harvest the turnips, the Laghmani asked the Devil, "Which part of the crop do you want? The top or the bottom?"

The Devil looked at the pretty green leaves of the turnips and said, "I'll take the top." The Laghmani, of course, got the turnips.

When it was time to harvest the wheat, the Laghmani again asked the Devil, "Which part of the crop do you want? The top or the bottom?"

The Devil this time said, "I'll take the bottom," and the Laghmani, of course, got the grain.

When it was time to harvest the corn, the Laghmani asked the Devil for a third time, "Which part of the crop do you want? The top or the bottom?"

The Devil this time said, "I'll take both the top and the bottom." And the Laghmani, of course, got the corn.

Unit 4: ورونه او خویندې

Section 1: Dialogue

تریسا: د اسد کورنۍ په لوګر کې اوسیږی؟

امان: هو. د اسد پلار د لوګر یو لوی او مشهور خان دی.

تریسا: اسد څو ورونه او خویندې لری؟

امان: څلور ورونه او دوه نورې خویندې لری.

تریسا: خویندې او ورونه یې هم اسد او لیلا غوندې دی؟

امان: هو، ټول لکه اسد غوندې دی. ورور یې کسه خور یې نیسه.

تریسا: ورور یې کسه خور یې نیسه څه معنا؟

امان: دا متل دی او معنا یې دا ده چه خور ورور ته ورته وی.

تریسا: ټول یې اسد او لیلا غوندې ښایسته دی؟

امان: د لوګر خلك ټول ښایسته دی.

New Vocabulary

Nouns

father *n, M irreg.* [plār] پلار

proverb *n, M2.* [matā̃l] متل

Numbers

one, a [yaw] یو

four [tsalór] څلور

two [dwa] دوه

Adjectives

big, important [loy] لوى

well-known [mashhúr] مشهور

similar [wárta] ورته

good-looking [xāystá] ښايسته

Adverbs, phrases and idioms

What does ... mean? [...tsá mānā?] ... څه معنا؟

It means ... [mānā ye dā da tse ...] معنا يى دا ده چه...

all of them [ṭól ye] تول يې

Look at the brother, guess at the sister *(proverb)*

[wror ye kása khor ye nása]

ورور يې كسه خور يې نيسه.

Preposition

like [(laka)...ghúnde] لكه ... غوندې

Question word

how many [tso] څو

Pronoun

that [dā] دا

Verb

have [lar-] لر

Practice

1. Memorize the following lines from the dialogue. Practice the question and answer with a partner.

A: اسد څو ورونه او خويندې لرى؟

B: څلور ورونه او دوه نورې خويندې لرى.

2. Ask a classmate:

- if he/she has any brothers or sisters
- how many brothers he/she has
- how many sisters he/she has
- where his/her parents live

2. Rābyā encounters Theresa at the cafeteria table where the Pashto students and Pashtuns meet. She has heard about Theresa, but hasn't met her yet. Write the conversation the two of them have. (Theresa has two brothers, no sisters.)

Section 2: Numbers

six	[shpag]	شپږ	٦	one	[yaw]	يو	١
seven	[wa]	اوه	٧	two	[dwa]	دوه	٢
eight	[atá]	اته	٨	three	[dre]	درې	٣
nine	[náha]	نه	٩	four	[tsalór]	څلور	٤
ten	[las]	لس	١٠	five	[pindzá]	پنځه	٥

Practice

1. Read the following rows of numbers.

a)	٥	٤	٩	٢	٨	٣	١	٦
b)	١	١٠	٧	٢	٩	٨	٦	٤
c)	٤	٨	٦	٢	٥	٣	١٠	١
d)	٩	٢	٨	١٠	٧	٣	٧	٥
e)	٥	٢	٩	٨	٤	٣	٦	٧

2. Answer the following questions:

١. څو خويندې لرې؟
٢. څو ورونه لرې؟
٣. څو ماماگان لرې؟
٤. څو ترونه لرې؟
٥. څو خوريان لرې؟
٦. څو خوريونه لرې؟
٧. څو نږدې ملگرې لرې؟
٨. څو ښوونکی لرې؟
٩. پلار دې څو کورونه لرې؟
١٠. غلځی صاحب څو د پښتو زده کوونکی لرې؟

Section 3: Weak Possessive Pronouns*

Examples

'Asad's brothers live in Logar.'	د اسد وروورونه په لوګر کې اوسېږی.
'His brothers live in Logar.'	وروورونه یې په لوګر کې اوسېږی.
'Asad is Laylā's brother.'	اسد د لیلا ورور دی.
'Asad is her brother.'	اسد یې ورور دی.
'We are sitting with Laylā's brother.'	د لیلا له ورور سره ناست یو.
'We are sitting with her brother.'	له ورور سره یې ناست یو.
'Patang is visiting Laylā's brother.'	پتنګ د لیلا له ورور سره ګوری.
'Patang is visiting her brother.'	پتنګ یې له ورور سره ګوری.

Notes:

1. The weak possessive pronoun comes after the first stressed phrase in the sentence, regardless of the position of the noun it modifies.

2. The stressed phrase can be the subject or object phrase, an entire prepositional phrase, or an adverb (like کله کله).

3. The weak possessive is often written attached to the word it follows.

The Weak Possessive Pronouns

1st sg. 'my'	[me]	مي	1st pl. 'our'	[mo]	مو
2nd sg. 'your'	[de]	دي	2nd pl. 'you all's'	[mo]	مو
3rd sg. 'his'/'her'	[ye]	يي	3rd pl. 'their'	[ye]	يي

---

* Definitions and explanations of asterisked items are given in the Glossary of Technical Terms at the end of the Workbook.

Practice

1. In the following sentences, identify the weak possessive pronoun, the noun it modifies, and the stressed element it comes after.

١. خور يې په شلگر کې واده ده؟
٢. معنا يې دا ده چه خور ورور ته ورته وی.
٢. ټول يې اسد او ليلا غوندې ښايسته دی؟
٤. خويندې او ورونه يې هم اسد او ليلا غوندې دی؟

2. In each of the sentences below, change the underlined possessive phrase to the appropriate weak pronoun, and make other necessary changes in the sentence.

١. د ليلا ورور شاگرد دی.
٢. اسد د ليلا ورور دی.
٢. د ليلا له ورور سره ناست يو.
٤. پتنګ د ليلا ورور ته گوری.

3. Answer the following questions.

١. کورنۍ دې چېرې اوسېږی؟
٢. پلار دې څه کار کوی؟
٢. مور دې کار کوی؟
٤. د ښوونکی نوم دې څه دی؟
٥. کور دې چېرې دی؟
٦. د ملگرو نومونه دې څه دی؟
٧. کور دې په جورج ټاون کې دی؟
٨. پلار دې چېرې دی؟
٩. ملگری دې څه شی لولی؟

Section 4: Reading

اسد د لوګر په باره کې غږېږی:

لوګر ډېر اباد ځای دی. ډېرې زياتې اوبه او خوږې مېوې لری. منې
يې ډېرې مشهورې دی. مځکې يې ابادې دی.

زما کورنۍ دوه ډېر لوی باغونه لری. پلار مې غواړی چه يو بل باغ
هم واخلی. يو باغ مو کور ته بيخی نژدی دی.

کله کله مې مور او خويندې هم ورځی. کله کله نورې پېغلې هم باغ
ته راځی او مېلې کوی. سندرې وايی؛ اتڼونه کوی او ټالونه خوری.
د لوګر پېغلې ډېرې مستې او پلوندې دی. په اتڼ او ټالونو هېڅ نه
ستړی کېږی.

New Vocabulary

Nouns

water	*F irreg.*	[wobá]	اوبه
fruit	*F1*	[méwa]	مېوه
apple	*F1*	[mā̆ṇa]	منه
soil	*F1*	[mdzáka]	مځکه
orchard	*M2*	[bāgh]	باغ
girl, maiden	*F1*	[péghla]	پېغله
picnic	*F1*	[méla]	مېله
song	*F1*	[sandára]	سندره
name of a dance	*M2*	[atáṇ]	اتڼ
swing	*M2*	[ṭā̆l]	ټال

Adjectives

fertile, prosperous	[abā̆d]	اباد
much	[zyā̆te]	زياتې
sweet	[khwā̆ge]	خوږې
other	[bəl]	بل
lively	[máste]	مستې
strong	[palwáṇḍe]	پلوندې
tired	[stáṛe]	ستړې

Preposition

by means of, with	[pa]	په

Adverbs, phrases, idioms	Verbs
about ... [de ... pə bāra ke] د ... په باره کې	talk [ghagég-] غږېږ-
especially, very, really [bikhi] بيخى	want, intend [ghwaṛ-] غواړ-
do the atan [ataṇúna kaw-] اتنونه کو	buy [wakhl-] واخ-
swing (on a swing) [ṭalúna khwr-] ټالونه خور	go (there) [wardz-] ورځ-
none, no [hets] هېڅ	come (here) [rādz-] راځ-
	do, make [kaw-] کو-
	say, sing [wāy-] واى-

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. د اسد پلار د کوم خاى اوسېدونکى دى؟
٢. د لوګر پېغلې څنګه دى؟
٣. پېغلې د اسد د پلار په باغ کې څه کوى؟
٤. د اسد پلار غواړى چه څه شى واخلى؟
٥. د اسد خويندې او ملګرى کله کله څه کوى؟
٦. ته څنګه؟ سندرې خوښوې؟
٧. د اسد مور او خويندې کله کله چېرې خى؟

2. In the following sentences from the reading, identify the weak possessive pronoun, and tell who or what it refers to.

١. منې يې ډېرې مشهورې دى.
٢. مخکې يې ښې ابادې دې.
٣. پلار مې غواړى چه يو بل باغ هم واخلى.
٤. يو باغ مو کورته بيخى نژدى دى.
٥. کله کله مې مور او خويندې هم ورخى.

Section 5: Diversions

نجلۍ د باغ له لوری راغله
ټیکری یې نشته مخ په پاڼو پټوینه

[njəláy de bā̆gh lə lóri rághla

ṭikráy ye nə́sta mə́kh pə pā̆ṇo pətawí-na.]

The young girl came from the orchard.

She had no scarf. She hid her face in the leaves.

Unit 5: هوا سخته توده ده

Section 1: Dialogue

پتنګ: یاره، هوا سخته توده ده. دلته عموماً هوا څنګه وی؟

داود: په اوړی کې هوا عموماً نن غوندې توده او لنده وی.
په کور او دفتر کې بې له اېیرکاندېشن نه‌ګوزاره نه کېږی.

پتنګ: ژمی څنګه وی؟

داود: ژمی ښایسته سوړ وی. اکثره سخت باد لګېږی.

پتنګ: واوره اورېږی؟

داود: هو. کله کله دومره زیاته واوره اورېږی چه سرکونه بېخی
بندېږی.

پتنګ: پسرلی او منی څنګه وی؟

داود: په پسرلی او منی کې هوا عموماً نرمه وی، خو باران
ډېر زیات اورېږی.

پنتګ: وایی چه باران د خدای‌رحمت دی.

New Vocabulary

Nouns

weather *F3* [awā̃] هوا	street *M2* [sarák] سرك
office *M irreg* [daftár] دفتر	snow *F3* [wáwrā] واوره
air conditioning *M2* [éyar kāndeshán] اېیرکاندېشن	rain *M2* [bārā̃n] باران
	mercy *M2* [rahmát] رحمت

The seasons

spring *M3* [pasarláy] پسرلی

summer *M3* [zámay] ژمی

fall *M3* [mánay] منی

winter *M3* [wóṛay] اوړی

Preposition

without [be la ... na] بې له ... نه

Adverbs, phrases, idioms

friend *(addressed)* [yāra] یاره

usually *adv.* [amúman] عموما

just *adv.* [amdā] همدا

today *adv.* [nan] نن

can't get along *phrase* [guzāra ná kegi] گوزاره نه کېږی

often [aksára] اکثره

the wind blows... [bād lagég-] لگېږی

so ... that *phrase* [dúmra ... tse] دومره ... چه

Adjectives

heavy, very *I* [sakht] سخت

hot *irreg.* [tawdá] توده

wet *irreg.* [lamdá] لنده

cold *irreg.* [soṛ] سوړ

pleasant *irreg.* [nárma] نرمه

Verbs

is *habitually* [wi] وی

fall *(snow or rain)* [worég-] اورېږ -

become blocked [bandég-] بندېږ -

Practice

1. Answer the following questions.

١. په خای کې دې هوا په پسرلی کې عموما څنگه وی؟
٢. په خای کې دې هوا په ژمی کې عموما څنگه وی؟
٣. په خای کې دې هوا په منی کې عموما څنگه وی؟
٤. په خای کې دې هوا په اوړی کې عموما څنگه وی؟
٥. نن هوا څنگه ده؟

2. Pair up, then carry on a conversation about the weather in your respective home towns.

Section 2: Adjective Classes

Examples

'The weather is very cold.'	هوا سخته سوړه ده.
'Winter is very cold.'	ژمی ښایسته سوړ وی.
'Sometimes so much snow falls that...'	کله کله دومره زیاته واوره اورېږی چه...
'Are you Ghalzay Sahib's new student?'	د غلځی صاحب نوې شاگرده يې؟
'They are from different areas in Afghanistan."	د افغانستان د بېلو بېلو سيمو دی.

Notes:

1. Adjectives must agree with the words they modify in number, gender and case. In the examples above, the adjectives are underlined trice, and the words they modify are underlined once.

2. Most adjectives belong to one of the classes described below, but there are irregular adjectives as well.

Adjective Classes

Class 1 (M forms the same except for OPl: F forms like F1 nouns)

M:	DSg: [joṛ] جوړ	DPl: [joṛ] جوړ	OSg: [joṛ] جوړ	OPl: [jóṛo] جوړو
F:	DSg: [jóṛa] جوړه	DPl: [jóṛe] جوړې	OSg: [jóṛe] جوړې	OPl: [jóṛo] جوړو

Class 1 adjectives:

اباد	بېل بېل	بلد	ډېر	کوم	سخت
بل	مشهور	خوار	لوی	جوړ	زيات
پلوند	منتظر	ناست	يو	نور	مست

Class 2 (M forms like M3 nouns: F forms like F1 nouns)

M:	DSg: [náway] نوی	DPl: [náwi] نوي	OSg: [náwi] نوي	OPl: [náwo] نوو
F:	DSg: [náwe] نوې	DPl: [náwe] نوې	OSg: [náwe] نوې	OPl: [náwo] نوو

Class 2 adjectives: نوی ستړی

Class 3 (M forms end in [ə] except for obl. pl.[o]: F forms like F1 nouns)

M: DSg: [xə] ښه DPl: [xə] ښه OSg: [xə] ښه OPl: [xo] ښو

F: DSg: [xa] ښه DPl: [xe] ښې OSg: [xe] ښې OPl: [xo] ښو

Class 4 (all forms the same)

M and F: DSg: [xāystá] ښايسته DPl: [xāystá] ښايسته

OSg: [xāystá] ښايسته OPl: [xāystá] ښايسته

Class 4 adjectives:

واده ښايسته نژدې ورته

Class 5 (MDSg ends in [oṛ]: [o] changes to [ā] or [a]: F forms end like F1 nouns)

M: DSg: [soṛ] سوړ DPl: [sāṛə́] ساړه OSg: [soṛ] سوړ OPl: [saṛó] سړو

F: DSg: [saṛá] سړه DPl: [saṛé] سړې OSg: [saṛé] سړې OPl: [saṛó] سړو

Irregular Adjectives

'hot' تود

M: DSg: [tod] تود DPl, OSg: [tāwdə́] تاوده OPl: [tawdó] تودو

F: DSg: [tawdá] توده DPl, OSg: [tawdé] تودې OPl: [tawdó] تودو

'pleasant' نرم

M: DSg, DPl, OSg: [narám] نرم OPl: [nármo] نرمو

F: DSg: [nárma] نرمه DPl, OSg: [nárme] نرمې OPl: [nármo] نرمو

'sweet' خوږ

M: DSg: [khog] خوږ DPl, OSg: [khwā́gə] خواږه OPl: [khwágo] خوږو

F: DSg: [khwága] خوږه DPl, OSg: [khwáge] خوږې OPl: [khwágo] خوږو

'wet' لوند

M: DSg: [lund] لوند DPl, OSg: [lāmdə́] لانده OPl: [lámdo] لندو

F: DSg: [lámda] لنده DPl, OSg: [lámde] لندې OPl: [lámdo] لندو

Practice

1. Identify the class and form of the underlined adjectives in the sentences below, which are from previous units.

١. ستړې مه شې.
٢. ته به د غلخی صاحب نوې شاګرده یې.
٣. د داود ملګری ټول افغانان او د افغانستان د بیلو بیلو سیمو دی.
٤. غلخی صاحب هم په شلګر کې بلد دی.
٥. خور ورور ته ورته وی.
٦. د لوګر خلك ټول شایسته دی.
٧. ډیرې زیاتې اوبه او خوږې میوې لری.
٨. زما کورنۍ دوه ډیر لوی باغونه لری.
٩. د لوګر پېغلې ډیرې مستې او پلوندې دی.
١٠. په اتڼ او ټالونو هیڅ نه ستړی کیږی.

2. Answer the following questions.

١. سیمه دې ډیر اباد ځای دی؟
٢. سیمه دې ډیرې زیاتې اوبه لری؟
٣. سیمه دې خوږې میوې لری؟
٤. په سیمې کې دې زیاته واوره اوریږی؟
٥. په سیمې کې دې مخکې ډیرې ابادې دی.
٦. په سیمې کې دې هوا عموماً ښه وی؟

3. Ask and answer questions using the new adjectives given below.

lazy	*1*	[laṭ]	لټ	stupid	*1*	[ahmáq]	احمق
crazy	*2*	[lewanáy]	لېونی	ugly	*1*	[badráng]	بدرنگ
sick	*4*	[nājóṛa]	ناجوړه	thirsty	*2*	[tágay]	تږی
hungry	*2*	[wə́gay]	وږی	sad	*4*	[khapá]	خپه
smart	*1*	[wuxyā̆r]	هوښیار	sleepy	*2*	[khobawə́ṛay]	خوبوړی

Section 3: Reading

هر کال څلور موسمونه لری - پسرلی، اوړی، منی، ژمی. هر موسم درې میاشتې دی.

په پسرلی او منی کې هوا ښه او نرمه وی. په اوړی کې هوا توده او په ژمی کې سړه وی.

په افغانستان کې پسرلی د ګلانو موسم دی. اوړی بعضې مېوې او فصلونه پخېږی. منی د مېوو موسم دی . ژمی د واورې موسم دی.

د پسرلی اولې ورځې ته نوروز وایی. د نوروز ورځ عامه رخصتی وی . خلک مېلې کوی.

د نوروز ډېره لویه مېله د ګل سرخ مېله ده. دا مېله په مزارشریف کې کېږی. دې مېلې ته د ټول افغانستان او حتی د نورو ملکونو زیات خلک ورځی.

New Vocabulary

Nouns

year *M2* [kāl] کال	day *F1-[a]*. [wrādz] ورځ
season *M2* [mosám] موسم	New Year *M2* [nawróz] نوروز
month *F1-[a]*. [myāst] میاشت	holiday *F irreg.* [rukhsatí] رخصتی
flower *M1* [gwal] ګل	Gwale Surkh *(festival)* [gwale súrkh] ګل سرخ
crop *M2* [fásəl] فصل	country *M2* [məlk] ملک

Verb

ripen [pakhég-] - پخېږ

Adverbs, phrases, idioms

even [hátā] حتا

X is called Y *phr.* [X ta Y wāyi] X ته Y وايي

Adjectives

public *1* [ǎma] عامه

some *4* [bǎze] بعضې

every *1* [ar] هر

Have You Understood?

1. Answer the questions.

١. د څلورو موسمونو نومونه څه دي؟
٢. یو موسم څو میاشتې لري؟
٣. د ګل سرخ مېله چېرې کېږي ؟
٤. د پسرلي اولې ورخې ته څه وايي ؟
٥. په افغانستان کې په ژمي کې هوا څنګه وي؟
٦. په افغانستان کې په اوړي کې واوره اورېږي ؟
٧. پښتانه نوروز ډېر خوښوي؟
٨. په کومو موسمونو کې هوا نرمه وي؟
٩. دافغانستان خلك د پسرلي په اوله ورخ څه کوي؟

2. What word does each of the underlined adjectives modify?

١. د نوروز ډېره لويه مېله د ګل سرخ مېله ده.
٢. دې مېلې ته د ټول افغانستان او حتی د نورو ملکونو زيات خلك ورخي.
٣. په پسرلي او مني کې هوا ښه او نرمه وي.
٤. د پسرلي اولې ورخې ته نوروز وايي.
٥. د نوروز ورخ عامه رخصتي وي.

Section 4: Asking for Vocabulary

Model: دپسرلی اولې ورځې ته نوروز وايي.

Literal: 'They say "Nawroz" for the first day of spring.'
Idiomatic: 'The first day of spring is called "Nawroz".'

To ask for a translation into Pashto: په پښتو کې 'hello' ته څه وايي؟

Literal: 'In Pashto what do they say for 'hello'?'
Idiomatic: 'What's the word for 'hello' in Pashto?'

To ask for a word in Pashto (pointing to an object up close): په پښتو کې دې ته څه وايي؟

Literal: 'In Pashto what do they say for this?'
Idiomatic: 'What's the word for this in Pashto?'

To ask for a word in Pashto (pointing to an object far away): هغه څه شی دی؟

Literal: 'What thing is that?'
Idiomatic: 'What's that?'

Practice

1. Answer the following questions.

په پښتو کې 'hello' ته څه وايي ؟
په پښتو کې 'swing' ته څه وايي ؟
په پښتو کې 'inhabitant' ته څه وايي ؟
په پښتو کې 'student' ته څه وايي ؟
په پښتو کې 'song' ته څه وايي ؟

2. Point to objects close to you in your classroom, and ask your teacher what the Pashto words for them are.

3. Point to objects far away, and ask your teacher what they are.

Section 5: Diversions

په لويو غرو د خدای نظر دی
په سريې واورې اوروی پای کې گلونه

[pa lóyo ghró de khwdāy nazār da.
pa sar ye wā́wre worawi, pāy ke gwalúna.]

God cares for the high mountains.
At the summit He causes snow; at the foot flowers.

Unit 6: شنبې څه کوی؟

Section 1: Dialogue

اسد : د شنبې په ورځ څه کوې؟

تریسا: ورجنیا ته ځم.

اسد : څه وخت بېرته راځې؟

تریسا: ددوشنبې په ورځ سهار وخته بېرته راځم.

اسد : دچارشنبې په ماښام څه پروګرام لرې؟

تریسا: کتابخانې ته ځم. پنجشنبې امتحان لرم.

اسد : دجمعې په ماښام څه کوې؟

تریسا: څه خاص پروګرام نه لرم.

اسد : راځه په کابل کاروان رستوران کې زما مېلمه شه.

تریسا: ښه ده. وایی چه کابل کاروان رستوران ښه افغانی ډوډۍ پخوی.

اسد : هو! بیخی ښه ډوډۍ لری.

New Vocabulary

Nouns

Virginia *F3* [wirjinyā́]	ورجنیا	restaurant *M2* [rasturā́n]	رستوران
plan(s) *M2* [progrā́m]	پروګرام	guest *M irreg* [melmá]	مېلمه
library *F1* [kitābkhā́na]	کتابخانه	food *F2* [ḍoḍáy]	ډوډۍ
exam *M2* [ɪmtɪhā́n]	امتحان		
Kabul Caravan *(restaurant name)* [kabəl kārwā́n]	کابل کاروان		

Time words

Saturday *F1.* [shambé] شنبې

Monday *F1.* [dushambé] دوشنبې

Wednesday *F1.* [charshambé] چارشنبې

Thursday *F1.* [panshambé] پنجشنبې

Friday *F1.* [jumá] جمعه

evening *M2.* [māxā́m] ماښام

time *M2.* [wakht] وخت

morning *M2* [sahā́r] سهار

Preposition

at, on *(with time phrases)* [pə] په

Verbs

come *imperative* [rādzá] راځه

be [sa] شه

cook [pakhaw-́] - پخو

Adjectives

special *1* [khās] خاص

Afghan *4* [awghāní] افغانی

Adverbs, phrases, idioms

when? [tsə́ wakht] څه وخت

back [bérta] بېرته

early morning [sahā́r wákhta] سهار وخته

any [tsə] څه

Practice

1. Memorize the first four lines of the dialogue.

2. In pairs, ask and answer the following questions, substituting different time words and places in the blanks.

A: د _______ په ورځ څه کوې؟

B: _______ ته ځم.

A: څه وخت بېرته راځې؟

B: د _______ په ورځ سهار وخته بېرته راځم.

2. Memorize Asad's line:

راځه په کابل کاروان رستوران کې زما مېلمه شه.

Substitute the names of restaurants in your area for the کابل کاروان.

Section 2: Time Words and Phrases

Days of the Week

Saturday	[shambe]	شنبې
Sunday	[yákshambe]	یکشنبې
Monday	[dú shambe]	دو شنبې
Tuesday	[sé shambe]	سې شنبې
Wednesday	[chăr shambe]	چارشنبې
Thursday	[pánshambe]	پنجشنبې
Friday	[júma]	جمعه

Notes:

1. All day names are *F1* nouns. They never occur in the plural.

2. دو شنبې, سې شنبې and چارشنبې are written as two words; all the other days are written as one word.

3. Phrases with day words come just after the subject in the sentence unless they are focused on, in which case they come at the beginning of the sentence.

Examples

'What are you doing Saturday?'	د شنبې په ورځ څه کوې؟ شنبې څه کوې؟
'I'm coming back on Monday.'	د دوشنبې په ورځ بېرته راځم. دوشنبې بېرته راځم.
'I have an exam (on) Friday.'	د جمعې په ورځ امتحان لرم. جمعه امتحان لرم.
'I have an exam every Friday.'	د هرې جمعې په ورځ امتحان لرم. هره جمعه امتحان لرم.

Times of Day

morning	*M2*	[sahǎr]	سهار
late morning	*M2*	[tsǎxt (mahǎl)]	څاښت مهال
noon	*F1*	[ghárma]	غرمه
afternoon	*M2*	[mǎspaxín]	ماسپښین
late afternoon	*M2*	[mǎzdigár]	مازیگر
dusk	*M2*	[mǎxǎm]	ماښام
late evening	*M2*	[mǎskhután]	ماسختن
midnight	*F1*	[níma shpa]	نیمه شپه

Notes:

1. Phrases involving these time-of-day words are the most common ways to express time and make appointments in traditional Pashtun society.

2. The time phrase comes after the subject or, if it is focused on, at the beginning of the sentence.

3. The words occur without a preposition unless a day word is involved.

Examples

'What plans do you have for Wednesday night?'	دچارشنبې په ماښام څه پروگرام لرې؟
'I come back Saturday night.'	د شنبې په ماسپښین بېرته راځم.
'I have an exam this afternoon.'	نن ماسپښین امتحان لرم.
'I come back in the evening.'	ماسپښین بېرته راځم.

Practice

1. Answer the questions with information given or implied from the dialogue.

١. تریسا او اسد څه وخت کابل کاروان ته ځی?
٢. د جمعې په ورځ څه وخت ځی؟
٣. د چارشنبې په ماښام تریسا څه پروگرام لری؟
٤. د تریسا امتحان څه وخت دی؟
٥. اسد دپنجشنبې په ورځ خاص پروگرام لری؟
٦. تریسا دشنبې په ورځ خاص پروگرام لری؟
٧. تریسا په ورجنیا کې ترڅه وخته پورې وی؟

2. Answer the following questions.

١. هره د یکشنبې ورځ څه کوې؟
٢. د جمعې په ورځ چېرې ځې ؟
٣. ډوډۍ چېرې خورې؟
٤. درس څه وخت لولې ؟
٥. رستوران ته عموما څه وخت ځې ؟
٦. نن شپه څه کوې؟
٧. غرمه ډوډۍ چېرې خورې؟

3. Describe your schedule.

Section 3: Reading

پتنګ ډېر زيات مصروف دی. سهار وخته روغتون ته ځی. تر څاښته پورې ناروغان گوری. څاښت مهال عموماً عمليات کوی. وروسته له عملياتو نه لږ دمه کوی. وروسته له هغه نه بيا ناروغان گوری. غرمه کافتريا ته ځی، ډوډۍ خوری. ماسپښين په لابراتوار کې کار کوی. مازديگر خپلو استانانو ته درس ورکوی د. ماښام کورته ځی، ډوډۍ خوری او يو څه دمه کوی. ماختن بېرته روغتون ته ځی او تر نيمې شپې پورې ناروغان معاينه کوی. وروسته له نيمې شپې کورته ځی.

New Vocabulary

Nouns

patient	*M1.*	[nārógh]	ناروغ
operation	*M2.*	[amaliyā̃t]	عمليات
rest	*F1.*	[dáma]	دمه
cafeteria	*F3*	[kafitiryā̃]	کافتريا
laboratory	*M2*	[labrātowā̃r]	لابراتوار
assistant	*M1*	[asistán]	استان
lesson	*M2*	[dars]	درس

Adjectives

busy	*1*	[masrúf]	مصروف
little	*1*	[lag]	لږ
own	*1*	[khpal]	خپل

Adverbs, Phrases, Idioms

then, again	[byā̃]	بيا
a little	[yáw tsa]	يو څه

Pronoun

that	*Op1*	[agho]	هغو

Verbs

eat	[ḍoḍáy khwr-]	ډوډۍ خور-
give	[wárkaw-]	ورکو-
examine	[māyená kaw-]	معاينه کو-

Prepositions

until	[tar ...́ pore]	تر...پورې
after	[wrusta la ...́ (na)]	وروسته له ... نه

Have You Understood?

1. Answer the following questions.

١. پتنګ سهار وخته چېرې ځی؟
٢. پتنګ څه کار کوی؟
٣. پتنګ د غرمې ډوډۍ چېرې خوری؟
٤. پتنګ د ماښام ډوډۍ چېرې خوری؟
٥. پتنګ خپل ملګری څه وخت ګوری؟
٦. پتنګ څه وخت دمه کوی؟
٧. پتنګ له څه وخته تر څه وخته پورې کار کوی؟

2. Where is Patang at the following times during the day?

8:00 a.m.	2:00 p.m.	8:00 p.m.
10:00 a.m.	4:00 p.m.	10:00 p.m.
Noon	6:00 p.m.	Midnight

3. Patang is writing to his family about his schedule. Fill in the blanks below with appropriate words.

— ډېر زيات مصروف —. سهار وخته روغتون ته —. تر
څاښته پورې ناروغان —. څاښت مهال عموماً عمليات —. وروسته
له عملياتو نه لږ دمه —. وروسته له هغو نه بيا ناروغان —. غرمه
کافتريا ته —، ډوډۍ —. ماسپښين په لابراتوار کې کار —.
مازديګر خپلو استانانو ته درس —. ماښام کور ته —، ډوډۍ
— او يو څه دمه —. ماسختن بېرته روغتون ته — او تر نيمې
شپې پورې ناروغان معاينه —. وروسته له نيمې شپې کورته —.

Section 4: Telling Time

Examples

'What time is it?'	څو بجې دی؟
'It's about one o'clock.'	نږدې یوه بجه ده.
'It's ten after one.'	لس باندې یوه بجه ده.
'It's quarter after one.'	پاو باندې یوه بجه ده.
'It's one thirty.'	یوه نیمه بجه ده.
'It's quarter to two.'	پاو کم دوه بجې دی.
'It's ten to two.'	لس کم دوه بجې دی.
'It's two o'clock.'	دوه بجې دی.

'At what time...?'	په څو بجو ...؟
'After about one o'clock...'	له نږدې یوې بجې نه وروسته ...
'Before ten after one...'	له لس باندې یوې بجېنه مخ کې ...
'From quarter after one....'	له پاو باندې یوې بجې نه ...
'Until one thirty...'	تر یوې نیمې بجېپورې ...
'Before quarter to two...'	له پاو کم دوو بجو نه مخ کې ...
'At ten to two...'	په لس کم دوو بجو ...
'Before two o'clock...'	له دوو بجو نه مخ کې ...

Notes:

1. Time-telling on the twenty-four hour clock is expressed in phrases revolving around the word بجه. Phrases involving times other than one o'clock require the plural بجې.

2. Time phrases other than statements of the time ('It's ... o'clock', etc.), are expressed via prepositional phrases with بجه as the object of the preposition. Prepositions used with the twenty-four hour system are given in the vocabulary list below.

3. There is no standard way to write times with numerals.

Time-Telling Vocabulary

21	[yawist]	یو ویشت	٢١	11	[yawólas]	یوولس	١١
22	[dwawist]	دوه ویشت	٢٢	12	[dólas]	دوولس	١٢
23	[dərwist]	درویشت	٢٣	13	[dyárlas]	دیارلس	١٣
24	[tsalerist]	څلیریشت	٢٤	14	[tswárlas]	څوارلس	١٤
25	[pindzəwist]	پنځه ویشت	٢٥	15	[pindzə́las]	پنځلس	١٥
26	[shpəgwist]	شپږویشت	٢٦	16	[shpā̆ṛas]	شپاړس	١٦
27	[wəwist]	اوه ویشت	٢٧	17	[wə́las]	اوه لس	١٧
28	[atəwist]	اته ویشت	٢٨	18	[atə́las]	اته لس	١٨
29	[nəhəwist]	نهه ویشت	٢٩	19	[núnas]	نونس	١٩
30	[ders]	دیرش	٣٠	20	[shəl]	شل	٢٠

Prepositions involved in time-telling

before [lə ... (na) məkh ke] له ... نه مخ کې

after [lə ... (na) wrusta] له ... نه وروسته

from [lə ... (na)] له ... نه

until [tər ... pore] تر...پورې

Other vocabulary involved in time-telling

clock, hour *n, F1.* [bája] بجه

quarter (in time-telling) *n, M2.* [pā̆w] پاو

until (with minutes in time-telling) *adv.* [... kam] کم

over, past, after (with minutes in time-telling) *prep.* [... bā̆nde] باندې ...

half, thirty (in time-telling) *adj, 1.* [nim] نیم

about, near *adj, 4* [nizdé] نیژدې

Practice

1. What time is it in Pashto?

a. 2:15 b. 4:08 c. 10:36 d. 7:45 e. 11:01
f. 1:35 g. 3:49 h. 8:12 i. 10:02 j. 5:30
k. 6:17 l. 8:55 m. 6:09 n. 4:41 o. 7:15
p. 2:00 q. 9:15 r. 11:45 s. 3:30 t. 10:27
u. 12:38 v. 5:45 w. 1:53 x. 9:00 y. 12:15

2. Substitute different times in the following sentences.

په ـــــ ډوډۍ خورو.
له ـــــ تر ـــــ پورې کار کوم.
په ـــــ صنف ته خم.
له ـــــ نه وروسته اکثره درس وایم.
په ـــــ راځه.
له ـــــ نه مخ کې رستوران ته خو.
په ـــــ امتحان لری.

3. Describe your class schedule, giving exact times.

Section 5: Diversions

Mullah Nasruddin was traveling, and happened to be in a village strange to him. Someone approached and asked, "نن څه ورځ ده؟"

The Mullah answered, "I'm sorry, I'm a stranger here too. You'll have to ask one of the local people."

Unit 7: زه به آشك راوغواړم.

Section 1: Dialogue

اسد : وایه څه شی خورې؟

تریسا : ته ودرېږه، چه څه شی لری.

اسد : هرڅه لری. څه شی دې ښه ایسی؟

تریسا : ستا څه شی ښه ایسی؟

اسد : زما کباب او آشك ښه ایسی، خو قابلی پلو او منتو یې
هم ډېر ښه دی.

تریسا : زمرد چلو یې څنګه دی؟

اسد : زمرد چلو او بانجان چلو یې هم ښه دی.

تریسا : آشك یې مرچ لری؟

اسد : نه، مرچ نه لری.

تریسا : زه به آشك را وغواړم. ته څه شی راغواړې؟

اسد : زه به، نو، قابلی پلو او کباب را وغواړم او ګډ به یې سره
وخورو.

New Vocabulary

Afghan food *(all M2 nouns)*

[kabāb] کباب	[mantú] منتو
[āshák] آشك	[zamarud chaláw] زمردچلو
[qābili paláw] قابلی پلو	[bānjān chaláw] بانجان چلو

Noun

pepper *M2.* [mrəch] مرچ

Pronoun

them *wk pro.* [ye] يې

Verbs

wait, stand, stop [darég-] - درېږ

ask for, order [ghwā̃ṛ-] - غوارړ

Adverbs, phrases, idioms

What'll you have? [wáya tsə́ shay khwre?]

وايه څه شی خورې؟

everything [ár tsə] هرڅه

seems good [xə́ yisi] ښه ايسی

here (to where I am) [rā] را

then, indeed [no] نو

together [gaḍ] گډ

Practice

1 Memorize the following lines from the dialogue. Practice the exchange with a partner.

A: وايه څه شی خورې؟

B: ته ودرېږه، چه څه شی لری.

A: هرڅه لری. څه شی دې ښه ايسی؟

B: ستا څه شی ښه ايسی؟

2 Mention things you like, using the following sentence as a model.

زما قابلی پلو ښه ايسی.

3 Ask and answer questions on the following models:

ستا افغانی ډوډۍ ښه ايسی؟

هو! زما افغانی ډوډۍ ښه ايسی.

نه، زما افغانی ډوډۍ ښه نه ايسی.

Section 2: The Perfective Form of Simple Verbs

Examples

'Wait.'	ته ودرېږه.
'I'm going to order aushak.'	زه به آشك را وغوارم.
'We'll eat it together.'	گډ به يې سره وخورو.

Notes:

1. The verbs in ordinary Pashto commands and statements about the future are perfective in aspect, as opposed to verbs in the present tense, which are imperfective in aspect.

2. Verbs in the perfective aspect usually reflect action that has a starting and stopping point.

3. Pashto verbs can be grouped into three classes on the basis of the way their perfectives are formed. In this unit, the first of the classes - the simple verbs - is dealt with.

4. The following verbs are simple verbs:

'meet with'	گور-	'fall'	اورېږ-	'buy'	اخل-	'have'	لر-
'want, invite'	غوار-	'live'	اوسېږ-	'wear'	اغوند-	'drink'	څك-
'stop, wait'	درېږ-	'show'	ښيي-	'say'	وايي-	'eat'	خور-
				'talk'	غږېږ-	'read'	لول-

The Present Perfective Form of Simple Verbs

Root (and present imperfective form)	Present perfective form
[tsk-] څك-	[wə́tsk-] وڅك-
[khwr-] خور-	[wə́khwr-] وخور-

Notes:

1. The perfective form of simple verbs is formed by adding the prefix [wə́] و to the root (which is also the present imperfective form) of the verb.

2. Perfective و is always stressed. It is frequently pronounced as [wú].

3. [wə́] و + [a] ا = [wā], e.g. [wə́] و + [aghúnd-] اغوند- = [wāghund-] واغوند-
[wə́] و + [akhl-] اخل- = [wākhl-] واخل-

Section 3: Commands

Examples

Positives:		
'Wait.' (to one person)	[wádarega]	ودرېږه.
'Wait.' (to more than one)	[wádaregay]	ودرېږئ.
'Buy the pepper.' (to one person)	[mrach wắkhla]	مرچ واخله.
'Buy the pepper.' (to more than one)	[mrach wắkhlay]	مرچ واخلئ.
Negatives:		
'Don't wait.' (to one person)	[mádarega]	مه درېږه.
'Don't wait.' (to more than one)	[mádaregay]	مه درېږئ.
'Don't buy the pepper.' (to one person)	[mrach mắkhla]	مرچ مه اخله.
'Don't buy the pepper.' (to more than one)	[mrach mắkhlay]	مرچ مه اخلئ.

Notes:

1. Ordinary commands in Pashto are formed by affixing [-a] ـه- or [-ay] ئ- to the present perfective form of the verb.

2. Commands addressed to one person (singular) end in [-a] ـه-. Commands addressed to more than one person (plural) end in [-ay] ئ.

3. Negative commands are formed with the particle [má] مه and the imperfective root of the verb.

4. [má] + [a...] = [mắ...], e.g. [má] مه + [ákhla] اخله = [mắkhla] مه اخله

Practice

1. In the following commands, identify the verb; tell whether the command is positive or negative, and tell whether the command is addressed to one person or more than one

١. فراه را وښیئ.
٢. خويندې دې وګوره.
٣. ډوډۍ دې وخوره.
٤. لنډۍ ووايئ.
٥. کافي مه څکئ.
٦. سندره مه وايئ.
٧. ته ودرېږه.
٨. استاد دې وګوره.
٩. کافي وڅکه.
١٠. د پتنګ په باره کې مه غږېږه.

2. Address the following commands to a group of people:

١. ليلا ته مه ګوره.
٢. ودرېږه.
٣. فراه را وښيه.
٤. ډوډۍ مه غواړه.
٥. کتاب مه لوله .
٦. دلته واوسېږه.
٧. افغاني جامې واغونده.
٨. باغ مه اخله.
٩. درس دې ولوله.
١٠. وغږېږه.

3. Give the positive and negative command forms for each of the simple verbs

4. Tell someone:
   1. To sing a song
   2. To order the aushak
   3. To study the lesson
   4. To see the nurse
   5. To invite her friends

Tell someone:
   6. Not to live in the dormitory
   7. Not to wear Afghan clothes
   8. Not to talk about the exam
   9. Not to drink the water
   10. Not to eat the pepper

Section 4: Future Expressions

Examples

Positives:

'Asad will wait.'	[asád ba wádaregi.]	اسد به ودرېږي.
'He will wait.'	[wá ba daregi.]	و به درېږي.
'Asad will buy coffee.'	[asád ba kāfí wākhli.]	اسد به کافي واخلي.
'He will buy coffee.'	[kāfí ba wākhli.]	کافي به واخلي.
'His father will wait.'	[plār ba ye wádaregi.]	پلار به يې ودرېږي.

Negatives:

'Asad won't wait.'	[asád ba wa ná daregi.]	اسد به ونه درېږي.
'He won't wait.'	[wá ba ná daregi.]	و به نه درېږي.
'Asad won't buy coffee.'	[asád ba kāfí wā nákhli.]	اسد به کافي به وا نهخلي.
'He won't buy coffee.'	[kāfí ba wā ná khli.]	کافي به وا نه خلي.
'His father won't wait.'	[plār ba ye wa ná daregi.]	پلار بهيې و نه درېږي.

Notes:

1. Ordinary future expressions are formed with the particle به and the present perfective form of the verb, followed by the personal endings.
2. Negative future expressions are formed by adding the particle [ná] نه between the perfective و and the verb root.
3. The future particle به goes after the first stressed element in the sentence, resulting in the following possible orderings of elements and particles:

    If there is a subject or object:

        subject/object + [ba] به + [wá] و + ([ná] نه) + vb stem + endings

    If there is both a subject and an object:

        subject + [ba] به + object + [wá] و + ([ná] نه) + vb stem + endings

    If there is neither:

        [wá] و + [ba] به + ([ná] نه) + vb stem/endings

    If the subject or object includes a weak pronoun possessive:

        subject/object + [ba] به + wk pron + ([na] نه) + vb stem + endings

4. [wə] و + [ná] نه + [a...] ا = [wā] وا + [na] نه + [...], e.g. [wā ná khli] وا نه خلي.
5. Yes/no questions in the future differ from future statements in intonation only.

Practice

1. In the following sentences, identify the future verb and explain the order of the words in the sentence.

١. زه به آشك را وغوارم.
٢. زه به، بنه ، قابلی پلو او کباب را وغوارم.
٢. گډ به يې سره وخورو.
٤. زه به کتاب ولولم.
٥. اسد به کافی وڅکی.
٦. امان به له ليلا سره وغږېږی.
٧. باران به و اورېږی.
٨. اسد به افغانی جامې واغوندی.
٩. رابيا به پتنگ ته ډوډۍ را وغواړی.
١٠. موټر به واخلو.

2. Change the sentences above to negatives.

3. Fill in the paradigm with the future forms of the verbs listed below.

'I will ...' ______
'you will ...' ______
'he/she/it/ will ...' ______
'we will ...' ______
'you all will ...' ______
'they will ...' ______

